SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې یو ځل خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
دریم کال شپیتمه ګڼه پرله پسې (۱٦۰) یکشنبه د۱٤۱۹هق کال د جمادي الاول (۱۱) د۱۳۷۷ هـ ش کال د وږي دمیاشتي (۱۱) د۱۹۹۸ میلادي کال د سپتمبر (۲)

الهي فرمان
عدل (انصاف) وکړئ ځکه همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر محترم ملا امیر خان "متقي" له امریکاغږ راډیو سره په مرکه کې:

د ایران هدف دا دی چي د خپلو خلکو پام په افغانستان کې د ایران د حکومت د پالیسي د ناکامي نه بلي خواته واړوي

درنو لوستونکو!
د اطلاعاتو او فرهنګ ... امیر خان «متقي» له امریکا ... مرکه کړي ده چي د دي ... سیاسي پام را اړوو.
محترم «متقي» د افغانستان ... سره نژدې د ایران د پوځي ... تبصره کې وویل چي د ایران ...
خپلو خلکو پام په افغانستان کې د ایران د حکومت د پالیسي د ناکامي نه بلي خواته واړوي. محترم ملا امیر خان متقي زیاته کړه: ایران په افغانستان کې لویه سرمایه ګذاري کړې وه او سوېږ چي کله یې کنټرول کې وو مسولیمل چي د دوي په د رجتو طنازي په د ... ګډي راللي او زیاني ... نظامي برخه کې، سیاسي برخه کې، نو اوس
دوي په خپل تجارت کې تاوان کړی دی او غواړي چې تاوان وکړي، هغه خامخا ډېر ... د دوي نه دا پوښتنه کوي چې ستاسي سیاست په افغانستان کې ناکام شو دوي غواړي چې د خلکو توجه بلې خوا ته واړوي او د هغه تاوان په برخه کې چې دوي کړي دي غواړي د خلکو په ... خاوري ... د افغانستان د تاریخ نه خبر وي موږ د ...
ټلوروم مخ

طالبان به هیچ وجه به تاجکستان و کشور های دیگر آسیاي میانه حمله نخواهند کرد
سید عبدالله نوري رهبر جنبش اسلامي تاجکستان و رئیس کمیسیون مصالحه ملي آن کشور

سید عبدالله نوري رهبر جنبش اسلامي تاجکستان و رئیس کمیسیون مصالحه ملي آن کشور در مصاحبه با یکي از رسانه هاي خبري خارجي گفته است: که تحریک اسلامي طالبان به هیچ وجه به تاجکستان و کشور هاي دیگر آسیاي میانه حمله نخواهد کرد. صحبت هاي که ما با طالبان داشتیم، روابطي که داشته و هنوز هم داریم. انها قصد تجاوز بخاك تاجكستان
ص۰۰

اعلامیه وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان در رابطه به تمرینات نظامي ایران در نزدیکي سرحد با افغانستان

از چند سال به اینطرف دست هاي مداخله گر خارجي به آتش جنگ در افغانستان دامن مي زنند که هدف از آن از میان بردن وحدت ملي، تمامیت ارضي و در نهایت تجزیه این کشور است اما با نصرت الهي و همکاري بیدریغ ملت مجاهد افغان امارت اسلامي افغانستان موفق گردید تا با فتح ولایات شمال کشور این دسایس و ... هاي بیگانگان را خنثي سازد.
ما بار ها اعلام نموده ایم که تحولات در شمال کشور ... تحول داخلي بوده و هیچ تهدیدي را متوجه کشور هاي ...
ص۰۰

د جوزجان ولایت د خېرونو وسایل بیا احیاء او په خېرونو یې پیل وکړ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د فرهنګي فعالیتونو په لړ کي د جوزجان ولایت د خپرونو وسایل چي څه موده پخوا له فعالیت نه لویدلي و بیا احیا او په خپرونو یې پیل وکړ.
د جوزجان د ولایت له مرکز شبرغان ښار نه د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ د ... بیزي راډیو د خپرونو دستګاه، مطبعه او د جوزجان ولایت د خپرونو نوري برخي چي څه موده پخوا له فعالیت نه لویدلي وي په دي ورورستیو وختو کي د اطلاعاتو او کلتور وزارت د تخنیکي هیأت لخوا چي له هندي ... شولو ولانسو نه تللي د بیا فعال او له سره یې فعالیت پیل کړ.

عالیقدر امیر المؤمنین در مصاحبه با رادیو B.B.C فرمودند:

ما نه دیپلوماتهای ایرانی را باز داشت کرده ایم و نه به کندهار آورده ایم

این موضوع را به سازمان ملل متحد ارجاع مي کنیم تا ملل متحد در این مورد میانجیگري کند

خوانندگان عزیز!
محترم عالیقدر امیر المؤمنین شب گذشته در مورد به اصطلاح دیپلوماتان ایراني که از زمان فتح شهر مزار شریف توسط مجاهدین اردوي اسلامي به ادعا ایراني ها دیپلوماتان مذکور نزد امارت اسلامي افغانستان اسیر میباشند، مصاحبه را انجام داده است که ما در اینجا نکات عمده این مصاحبه ... تقدیم میداریم.
محترم عالیقدر امیر المؤمنین ... در صورتیکه دیپلوماتهاي ... خبرنگار این کشور نزد مخالفین امارت اسلامي نباشند انها به احتمال زیاد به قتل رسیده اند اما رهبري امارت اسلامي افغانستان از قتل انها اطلاعي نداشته و در زمینه نقشه و طرحي نیز نداشته اند: اما این مسئله را با ملل متحد ارجاع مي کنیم تا ملل متحد در این مورد میانجیگري کند. گرچه سازمان
ص۰۰

وحدت ورځپاڼه په خپلې وروستۍ سرمقاله کي لیکي:

ایران په افغانستان حمله کوي ؟

درنو لوستونکو!
وحدت ورځپاڼي په خپلې وروستۍ ... دوشنبې د ورځ د اګست په ۳۱ مه ګڼه کې د افغانستان او ایران د اړیکو او د افغانستان په بوله د ایران د پوځي مشقونو او په افغانستان باندي د ایراني واکمنانو د احتمالي برید موضوع ته په خپلې سرمقالي کې ځای ورکړیدي چي دا سرمقاله کټ مټ دلته هم را نقلوو:
د تیر څو ورځو په ... احبارونو کې دا خبرونه خپریږي چي د ایران حکومت د ... ټلوروم مخ

د عبدالهادي داوي او غازي مدرسو تر منځ د فټبال لوبه د غازي مدرسي په ګټه تمامه شوه

د فټبال د لوبو په لړ کې چي د عبدالهادي داوي او غازي د مدرسي د ټیمونو تر منځ وشوي لوبه د څلورو په مقابل کې یو د غازي د مدرسي د ټیم په ګټه پایته ورسیده.
ددغې لوبې لیدوکي د پوهنې وزارت د بدني روزنې د مشرتابه په هیات بر سیره یو شمیر زیاتو مینه والو هم برخه اخیستي وه.

په تورخم کي د مهاجرینو هستوګنځي پرانستل شو

د مهاجرینو هستوګنځي په تورخم کي پرانستل او د مهاجرینو د ملو لپاره چمتو شو. د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ ددغه هستوګنځي چي د یو زرو پنځه سوه لکو افغانیو په لګښت د ننګرهار ولایت د ساتني او څارني ریاست په همکاري د اسلامي امارت له بودجي نه جوړ شویدي څلوېښت متره اوږد او شپږ متره سور لري.
ددغه هستوګنځي د پرانستلو په مراسمو کي د شیخ زون نظیمه مرستیال محترم مولوي صدراعظم او د حدیقه دارالعلوم مهتمم محترم مولوي عبدالرزاق زمونږ مهاجرو وشوالو نه د اسانتیاوو د برابرولو لپاره ددغه ښار مرکزونو د جوړولو د اهمیت او ارزښت په باب خبري وکړي او د ننګرهار ولایت د ساتني او څارني د ریاست د کارکوونکو او کارګرانو له فعالیت نه یې خوښي څرګنده کړه.

یک اندازه سلاح و مهمات از ولسوالي موسي قلعه ولایت هلمند کشف و به دست آمد

به اثر سعي و تلاش موظفین ولسوالي موسي قلعه ولایت هلمند در این اواخر یک اندازه سلاح از مربوطات آن ولسوالي کشف و بدست امد.
اژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد سلاح متذکره شامل سه میل راکت، دو میل ماشیندار پیکا، سه میل کلاشینکوف و یک میل تفنګچه میباشد که به اثر سعي و تلاش موظفین ان ولسوالي کشف و بدست امد.

د پانګي اچوني پراختیا او عام المنفعه پروژو د جوړولو غونډه جوړه شوه

ددي پروژو په جوړولو سره به زمونږ دوه زره هیوادوالو ته د کار زمینه برابره شي

د سرپرستي شورا د مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر په مشري د پانګي اچوني د پراختیا او د عام المنفعه پروژو د جوړولو غونډه له غرمي مخکي د ګلخاني په ماڼي کي جوړه شوه.
د سرپرستي شورا مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي اژانس ته خبر ورکړ ددغي غونډي په پیل کي محترم مولوي عبدالکبیر د خپلو خبرو په ترڅ کي د پروژو د ارزښت، اړتیا او ګټورتیا په باب تبنګار وکړ وویل چي د اوبلو، د ساختماني موادو د تولید، د غوړیو، د صابون، پلاستیک او ددغه شان نورو پروژو جوړېدل په حقیقت کي د هیواد د بیا جوړولو او احیا د بهیر ټلوروم مخ

از جنگ افغانستان و ایران تنها امریکا نفع میبرد
محترم حبیب الله رفیع نویسنده شهیر کشور

ایران افراد نظامي خود را که تحت قوماندہ جنرال محمد ... سرحدات افغانستان جا به جا ... ایشان به سرنوشت سلطان حسین ... دچار مي گردند. این سخنان را ... حبیب الله رفیع، یک تن از نویسندہ ... مشهور کشور در مصاحبه، با روز ...
وحدت چاپ پشاور گفته است.
محترم رفیع گفت: سلطان حسین صفوي تاج خود را در پا هاي شاه محمود هوتک گذاشته بود، باید این جنرال ایراني تاریخ را ورق بزند و بعدا به چشم بد سوي افغانستان بنگرد.
محترم حبیب الله رفیع اظهار داشت:
افغانان در مقابل مداخلات خارجي حساس میباشند و هر تجاوز که بالاي افغانستان صورت گرفته آن را به شکست مواجه ساخته اند. موصوف علاوه نمود اگر ایران بالاي افغانستان حمله نماید نه تنها اینکه خودش به شکست مواجه مي شود بلکه به اصطلاح رهبران افغاني که از
ص۰۰

سرمقاله
دلوي خداي (ج) په نامه

اقدام نیك حکومت پاکستان

پاکستان یکي از کشور هاي مهم جهان اسلام و منطقه شناخته شده و مردم آن نسبت به اکثر کشور هاي اسلامي از روحیه دیني و اسلامي خوبي بر خوردار میباشند.
سیکولرست هاي جهان اسلام در ضدیت با اسلام و شعایر دیني کار را به جایي کشانیده اند که نسبت به دول کفري در این زمینه پیشي گرفته اند. استعمار صلیبي زمانیکه خواست جنگ نظریاتي را با عالم اسلام آغاز نماید - این واقعه درست بعد از شکست اوشان در میدان نبرد مسلحانه علیه عالم اسلام بود - با مهارت کامل توانست که در این جنگ و تقابل، عالم اسلام را به شکست هاي خورد کننده، مواجه سازد و امپراطوري بزرگ خلافت عشماني را متلاشي نموده و جهان اسلام را به واحد هاي کوچك و متعدد جغرافیایي و اداري تقسیم نماید و غرض حفظ کیان
ص۲۰

اهالي متدین شهرك بندري حیرتان و ولسوالي حضرت سلطان حمایت شانرا از امارت اسلامي افغانستان ابراز داشتند

اهالي متدین شهرك بندري حیرتان با تدویر اجتماع بزرگ در آن شهر حمایت و پشتیباني شان را با امارت اسلامي افغانستان ابراز داشتند.
اژانس اطلاعاتي باختر از شهر حیرتان خبر میدهد در این اجتماع که با تلاوت ایات متبرکه قران عظیم الشان آغاز یافت محترم الحاج مفتي عبدالله حلالي و محترم شیخ الحدیث مولوي محمد رحیم در رابطه به اهداف والاي امارت اسلامي در امر تطبیق و انفاذ شریعت غراي محمدي (ص) و تامین صلح و امنیت سراسري در کشور صحبت نموده حملات راکتي امریکا بر کشور ما را محکوم نمودند.
ص۰۰

د ننګرهار په ولایت کي د عبدالله ابن مسعود (رض) د مدرسي دوداني ډبره کیښودل شوه

د حضرت عبدالله بن مسعود (رض) د مدرسي د وداني ډبره د ننګرهار ولایت د رودانو په ولسوالي کي کیښودل شوه.
د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ ... مدرسه چي د شیر حریبه ... کي ددغې ولسوالي د مومنو خلکو په همکار ... ډېر ... پي زمونږ په تن مسلمانان ... ټلوروم مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»

مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»

دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کی (۳) کلداری

پوست بکس : (٤٧۱) تیلفون: ۲۰۰۷۵

په پېښور کي :د طالبانو نمایندگی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷

جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸۵}{۷}$ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

محدوده هاي جغرافیایي جهان اسلام استعمار صلیبي در آنها روحیه عصبیت هاي جاهلي، قومي و زباني را به جاي روحیه و جذبه، دیني و اخوت اسلامي القا نمود و طوري آنها را مقابل هم قرار داد که روحیه اخوت ، آشتي و تفاهم را از اوشان به کلي سلب نموده و زمامداران جهان اسلام نتوانستند که در هیچ امر دیني و ملي با هم تعاون و حتي تفاهم موثر نمایند .

اگر به تاریخ معاصر جهان اسلام که دوره اوج گیري حرکتها و نهضتهاي سیکولرستي در ممالك اسلامي میباشد دیده شود به وضوح معلوم میگردد، دشمني وضدیتي را که علیه حاکمیت اسلام و اهل اسلام زمامداران سیکولر و بي دین آن کشور ها از خود نشان دادند به آن پیمانه هیچ قدرت کفري خارجي با اسلام و مسلمین طرف واقع نشدند و ضربه، را که زمامداران سیکولر جهان اسلام به پاي اسلام زدند هیچ قدرت کفري بیروني به آن پیمانه موفقیت علیه اسلام و اهل آن ، بدست آورده نتوانستند . تاریخ معاصر ترکیه ، مصر، عراق، سوریه و ... کشور هاي اسلامي پیش روي هر خواننده قرار دارد و همین حالا مخالفتي را که زمامداران ترکیه در داخل ترکیه و خارج از آن با اسلام و اسلام خواهان دارند در جهان کم نظیر میباشد .

سیکولرست هاي جهان اسلام به حیث بزرگترین مدافعین ارزش هاي تمدن غربي که در مخالفت با ارزش هاي شریعت اسلامي قرار دارد میباشد ، هرگاه حرکت و نشانه، از احیاي نظام سیاسي و حکومتي اسلام در کدام کشور اسلامي به مشاهده رسد در مقابل آن قبل از همه ، عناصر و نهضت هاي سیکولرستي در حرکت آمده و در مخالفت با آن یك جبهه واحد و متحد را تشکیل میدهند . همین حالا که حکومت پاکستان اعلان داشته که در نظر دارد که قرآن و سنت به حیث بالا ترین مرجع قانون در پاکستان شناخته شود ، دیده میشود که عناصر سیکولر با اختلافات شدید سیاسي که میان خود دارند در مقابل این اقدام نیك حکومت پاکستان متاسفانه ایستاده و جبهه، واحدي را تشکیل میدهند .

ما در حالیکه این اقدام نیك حکومت پاکستان را به دیده قدر نگریسته و آن را تائید مینمائیم براي اوشان در این راه توفیقات مزید از بارگاه ایزد متعال تمنا داریم و از ملت پاکستان و حلقه هاي دیني و مذهبي آن کشور در این مرحله حساس و نیکو توقوع میرود که اختلافات جزئي مذهبي و اختلافات سیاسي خود را کنار گذاشته از این اقدام نیك حکومت پاکستان حمایت کنند و غرض تطبیق این هدف عظیم دست به دست حکومت داده اگر ملاحظاتي در زمینه دارند و یا کمي هاي را در مسوده پیش شده حکومت میبینند از در مشوره با حکومت خویش در حل و ترمیم آن اقدام نمایند و نگذارند که کفر بین المللي و حلقه هاي سیکولر ، این پروسه اهم حیاتي را که خواسته هر مرد و زن مسلمان پاکستاني میباشد خداي ناخواسته سبوتاژ نمایند و ملت متدین پاکستان هم باید هوشیار باشند که در این مورد مستقل و با مشوره حلقه هاي دیني و علماي مذهبي عمل نمایند و وابسته گي هاي تنظیمي ، سیاسي و قومي آنها را نباید در مسیر مخالف این اقدام نیك حکومت شان قرار دهد .

تاریخ هم تکراریږي

پټې پاڼې

شهرت ننگیال

خبر دي چي ایران د افغانستان له پولي سره نژدي په تربت جام کي پوځي مانوري تر سره کوي، جنرال جعفري چي ددغو مانورو په اړه له خبر بالاتو سره خبري کولي وویل : دغه مانوري د دریمي عاشورا تر سرلیك لاندي تر سره کیږي چي د ایران ځمکني او هوایي ځواکونه به په هغې کي برخه اخلي.

لدي مخکي ایران دا هم اعلان کړي وه چي د افغانستان په پوله یي خپلو پوځونو ته د تیارسي حکم ورکړي او نوي ځواکونه یي ځاي په ځاي کړي دي.

ایراني واکمن چي لومړي له عراق سره په یوه خونړي جگړه کي ښکیل شو د خمیني په وینا اوربند د زهرو یو گوټ ؤ چي تیر یي کړ، دا چي ایران په هغه جگړه کي څه وگټل او څه یي بایلل یوه داسي پوښتنه ده چي ځواب یي اسانه هم دي او گران هم .

ایراني واکمنو د مذهب او روحانیت تر پردي لاندي د ایران پر ولس یوه داسي جگړه وتپله چي له مرگ او وراني پرته یي بل څه تر لاسه نشواي کړاي. د هغو ایراني ځوانانو برخلیك ښايي له هیچا هېر نه وي چي ایراني واکمنو به ورته د «جنت کلي» ورکړه او په ماینونو به یي ورمارش کړل. پدي توگه ایراني واکمنو په ډېره ناځوانمردانه توگه د ایراني ځوانانو له جذباتو او مذهبي احساساتو گټه پورته کړه او د مرگ کندي ته یي ورټېل وهل.

ایراني واکمن له خپل ولس سره هم په جگړه بوخت دي او د منځ لارو او سخت دریځه په نوم بیلا بیل ځواکونه په حکومت کي د ننه له یو بل سره لاس او گریوان دي. ایراني واکمن سره لدي چي د مذهب او روحانیت په نوم د اسلامي انقلاب له موضع نه خبري کوي خو په عمل کي یي له روس، هندوستان سره یو گډ مثلث جوړ کړي او پر هغوي پسي یي اقتدا کړي ده .

دا پر ځاي پرېږده چي ایران له عراق سره د جگړي پر وخت د تل ابیب له وسلو او پوځي مرستو نه هم گټه اخیستي ده، پدي توگه ایراني واکمنو نه خو د اصولو د سیاست سابقه او تجربه لرلي او نه یي هم خپل شعار او داعیې ته د اخلاص او صداقت ثبوت ښودلي دي.

د افغانستان پولوته نژدي د ایراني پوځ تمرینونه او مانوري ښايي د ایران او خمیني نورو هیوادونو په سیاسي قاموس کي یو څه ارزښت او معنا ولري خو افغانان چي عملاً دا دوي لسیزي د روسي لښکرو او د هغوي له پاتي شونو سره په فاتحانه جگړه بوخت دي د دسي تمرینونه او مانوري بې د ارادي او همت ستني نشي لړزولي، وایي چي یتیم په ژړا پوخ دي افغانان له چنگیز ، مغولو انگریز او روس سره د ډغرو او فاتحانه مقاومت د تاریخ اوږده تجربه او سابقه لري چي د ایران پوځي مانوري بې هیڅکله هم سترگي نشي برېښولي.

ایراني واکمن به ضرور د اصفهان او محمود تاریخ لرزولي او ویره ولي وي ځکه خو بې مطبوعاتو ولیکل چي «محمود افغان در سیماي ملا محمد عمر»

افغانان چي څومره د ښه گاونډیتوب سوله ایز ژوند او متقابل احترام استعداد لري همداسي د فاتحانه جگړي او ږ غري غوره تجربي او صلاحیتونه هم لري. دا نو په گاونډ پوري اړه لري چي د افغانانو د ښه گاونډیتوب سوله ایز ژوند او متقابل احترام له استعداد نه گټه اخلي او که یي د توري او د ډغري د تجربو او صلاحیتونو خوند څکي.

د افغانستان اسلامي امارت له ایران سره پخپلو پولو کي نه خو متقابلي پوځي مانوري کوي او نه جنگي تمرینونه ، خو د ایراني واکمنو د هر ډول بد نیتي او ناوړه قصد د ځواب توان او ځوال ورسره دي.

تاریخ تکراریداي هم شي افغانستان د تاریخ د تکراریدو ډېري پېښي او شواهد لري چېرته چي چنگیز ماته خوري هلته د انگریز د امپراتوري د زوال حماسه هم د تاریخ پر تندي ځلیداي شي . شوروي اتحاد او کمونیزم هم دړې وړې کیداي شي او د گرگین د شکست او محمود د سوبي او فتحي یادگارونه بیا هم ژوندي کیداي شي.

کوم ځاي چي احمد شاه بابا د تاریخ معمار جوړیداي شي چېرته چي میرویس نیکه د وطن د دښمن د زور او ترویر په ماېیو د ولس د قهر لمبي بلولي شي چېرته چي د پېرنگي او روس د امپراطوریو د ماتي او زوال نقشه انځوریداي شي هلته د هر یرغلگر او دښمن د حرص او بد نیتي انجام یوه بېه لري ، ایران یا نور هیوادونه له پیرنگي او روس نه ځواکمن او په پوځي برخه کي غښتلي نه دي که روس د پیرنگي له یرغلونو او ماتو عبرت اخیستي واي ښايي له داسي شرمیدلي ماتي او رسوایي سره به نه ؤ مخامخ شوي هوښیار یي پر بل ازموېي او کم بخت پر ځان.

لا تر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي چا چي مسا... د علي ... به ... دي.

کورني فقه

برله پسې — ٥۲ برخه

د کوچني حضانت

د ښځي او خاوند د بیلتون په وخت کي د کوچني برخلیك

قاضي محمد حسن "حقیار"

که ښځه او خاوند په یو کور کي ژوند کوي او کورني ژوند یي له ستونز ... نه په عادي ډول د صمیمیت او محبت په فضا کي روان وي نو دا یو نیکمرغه ژوند دی ، په داسي کورني کي نه یوازي دا چي خاوند او ښځه خوښ وي بلکه د کوچنیانو لپاره ډېر گټور دي او دا نیکمرغه کورني ژوند د کوچني په خویونو او عاداتو هم مثبت اغېز لري او د شریعت غوښتنه هم همداسي ژوند دي خو که د خاوند او ښځي تر منځ حالات ترخه شي او د مخو لاملونو له مخي یې تر منځه بیلتون راشي نو دا چي له بیلتون نه وروسته د کوچني برخلیك څه ډول دي کوچني څوك ښه ساتلي شي د کوچني پالنه او روزنه څوك ښه کولي شي او شرعا د کوچني د ساتلو لپاره څوك ډېر مستحق ده نو دلته یې څېړو.

امام علاو الدین کاساني په بدایع الصنایع کي وایي چي : د حضانت حق د حالاتو په توپیر سره کله د کوچني د پلار وي او کله د کوچني د مور حق وي خو اصل دا دي چي ښځي ډېري نرمي او مهربانه وي. کوچنیانو پالنه او روزنه په ښه توگه تر سره کوي، او ددي کار لپاره پوره وخت لري نو د کوچني د ساتني لپاره د پلار په انډول مور ډېر حق لري . بدائع الصنایع څلورم ټوك

سید سابق وایي چي : که مور او پلار بیلتون راغي او د بیلتون په وخت کي په مور کي د حضانت شرطونه پوره وو نو مور د کوچني د ساتني لومړي درجه حق لري خو دا په هغه وخت کي چي کوچني لا د حضانت په پړاو کي وي او دومره لوي نه وي چي د مور ساتني او پالني ته اړ نه وي.(او که کوچني دومره لوي وو چي د مور پالني او روزني ته اړ نه وو نو ددي مسئلي حکم به وروسته وڅېړو) ددي لا مل دا دي چي مور د خپل کوچني د روزني او ساتني لپاره ډېر وخت لري او پلار دومره فارغ نه وي همدا راز مور ډېره حوصله او صبر لري او پلار د مور په انډول له دي نعمت نه لږ برخمن دي او کله چي رسول الله «ص» ته همداسي یوه عملي پېښه د حکم لپاره وړاندي شوه نو هغه «ص» هم د مور په حق کي پرېکړه وکړه حضرت عمر ابن شعیب «رض» او حضرت عبدالله ابن عمر «رض» روایت کړیدي چي : « ان امرأة قالت یا رسول الله : ان ابني هذا کان بطني له ... »

یعني : (یقیناً زما دا زوي خیټه مي ده لپاره ظرف (لوښي) دي او غېږه مي دده لپاره ساتونکي ده او تیونه(سینې) مي دده لپاره د څکلو لوښي دي او دده پلار غواړي چي له ما څخه یي بیل کړي. نو رسول الله ځواب ورکړ چي : « انت احق به مالم تنکحي» یعني : ته د ده ډېره مستحقه یي تر څو چي بل واده ونه کړي) ابو داؤد ، مسند احمد بیهقي او مستدرك

حضرت عمر «رض» له یوي انصار یي میرمني سره واده وکړ او د هغي له خیټي نه د هغه زوي عاصم وزېږید چي وروسته بیا د دواړو تر منځ بیلتون راغي نو له بیلتون نه وروسته یوه ورځ حضرت عمر «رض» په قبا کي په سپرلي سپور روان وو چي خپل زوي عاصم یي ولیده چي د مسجد تر څنگ لوبي کوي نو له منځ نه یي ونیوه او له ځان سره یې په سپرلي د بېولو په نیت سپور کړ چي په دي وخت کي (په ځنو روایاتوکي ددي کوچني مور او په ځنو نوروکي بیا ددي کوچني نیا) دا جریان ولیده دا یي یي راغلله او له حضرت عمر سره یې جگړه شوه حضرت عمر وویل چي دا زما زوي دي او د ساتلو مستحق یي هم زه یم او دي ښځي ویل چي زما زوي (یا لمسی) دي او د ساتلو حق یي هم زه لرم تر دي چي ددوي دعوه د اسلام خلیفه امیر المؤمنین حضرت ابوبکر صدیق ته وړاندي شوه . حضرت ابوبکر صدیق چي د دواړو بیان واورید نو خپله فیصله یي د دي ښځي په حق کي صادره کړله حضرت عمر «رض» د فیصلي په اوریدلو هیڅ هم و نه ویل او فیصلي ته یي غاړه کېښوده. مرطا امام مالك

علما ، وایي چي که څه هم د حضرت عمر نظر او مذهب په دي مسئله کي د ابوبکر صدیق له نظر نه بیل وو خو بیا یي هم د ابوبکر صدیق فیصلي ته غاړه کېښوده.

ابن عبدالبر «رح» وایي چي : حدیث پولو د علم خاوندانو او فقها ، و نه د منلو وړ دي. نو له پورتنیو څرگندونو نه څرگندیږي چي د ښځي او خاوند د بیلتون په وخت کي که د کوچني په مورکي د حضانت شرطونه پوره وو نو د کوچني د ساتني، پالني او روزني لومړي حقداره مور ده .

تذکر :

رابطه ما میان کشور ها، در سطوح مختلف میتواند قایم گردد که به طور کل به دو بخش تقسیم میشود :

۱- ارتباطات مخفي و پنهاني ۲- ارتباطات آشکار و علني

کشور هايي که داراي ايدياولوژي اند و بر حاکميت ملي خود با در نظر داشت مکلفيت هاي بين المللي تاکيد مي ورزند، روابط خود را به صورت آشکار و علني، با پذيرش خصوصيات مشخص طرفين، آگاهانه بر قرار مي سازند و از چگونگي اين روابط ملتهاي خود را نيز در جريان قرار ميدهند. هنگامي که روابط ميان طرفين، در کليت تأمين گرديد، در باره جزئيات روابط ، مقامات آن دو کشور از مجاري مشخص خود، داخل تفاهم ميگردند که در سطح مطبوعات بين المللي ميتواند مطرح گردد يا نگردد.

حکومتهاي که با تأکيد بر حاکميت ملي تشکيل گرديده اند ، معمولاً با تمام کشور ها به گونه يي که شرح شد ارتباط قايم مي کنند، ولي حکومتهايي که داراي ايدياولوژي و سياست مطابق منافع ملي خود نيستند، معمولاً روابط خود را از انظار ملت خود پنهان ميدارند، چنانکه در مقاله، «طالبان، ايران و امريکا» که توسط محترم نذير احمد يك تن از مامورين پاکستاني که مدت ۱٤ سال را به حيث مدیریات پاکستان در تهران گذشتانده ، به رشته تحرير آمده است : يکي از اينگونه روابط ميان امريکا و ايران از يکسو و پاکستان و امريکا از سوي ديگر به بيان آمده است .

ما در حاليکه از روز نامه، سهار به خاطر نشر اين مقاله مفيد، اظهار قدرداني مينمائيم، به صراحت ابراز ميداريم که امارت اسلامي افغانستان چون بر پايه ايديولوژي اسلام، به حيث نتيجه، منطقي جهاد مقدس ملت ما عليه اشغالگران روس و بر اساس تأکيد بر حاکميت ملي ما تشکيل گرديده است، به همه، کشور ها ، از جمله با مقامات امريکايي، با در نظر داشت سياستهاي مستقل خود، به حيث دو کشور، از حيث حقوق با هم مساوي داخل بحث و مذاکره، مستقيم گرديده، هر پرابلمي که طرفين دارد، ما يقين داريم که از فضاي حسن نيت قابل حل ميتواند باشد. ما چيزي نداريم که از ملت خود پنهان نمائيم، و نيز ملت ما، با هيچ کشور دشمني ذاتي ندارد. تنها ايديالوژي و منافع ملي ما و رفتار ديگران است که تعين کننده است و بس.

بنده اين مقاله را که توسط محترم مرتضي «موحد» به پشتو ترجمه گرديده بود به دري ترجمه نمودم تا دري زبانان کشور ما نيز از آن استفاده برده و از جانب ديگر واضح گردد که روابط ما با امريکا از گونه، روابط نيست که امريکا با ايران يا پاکستان دارد؛ بلکه روابط ما در صورت شناخت رسمي جانبين روابط آگاهانه، دو ملت و حکومت است که در طول سالها با حسن رفتار خود اعتماد متقابل را بين هم ايجاد کرده اند و مي کنند.

«مترجم»

امريکا، ايران و طالبان

نوشته : نذير احمد

مترجم : احمدضيأ «شريفي»

زمانيکه رضا شاه زعيم وقت ايران در سالهاي اخير دهه، هفتادم مي خواست براي امريکا زور خود را نشان بدهد، امريکا در صدد بر انداختن وي از قدرت و بر اريکه قدرت نشاندن شخصي ديگري بود که در اين زمينه دست به کار شد، در اين وقت دستگاه استخباراتي امريکا (CIA) در يك راپور تحقيقي خود سفارش کرد که خميني که يك ملاي مؤثر شيعه است ، يك جانشيني خوب رضا شاه مطابق توقعات امريکا گرديده و در منطقه در پروسه دشمني امريکا با اسلام مفيد واقع شده مي تواند. طوريکه همه ميدانيم زمانيکه خميني از عراق به فرانسه رفت، کارتر رئيس جمهور اسبق امريکا يك مامور عالي رتبه خود را بنام «رمزي کلارك» به پاريس فرستاد تا با خميني ملاقات نمايد.

خميني با رمزي کلارك چندين بار طور مخفيانه ديد و باز ديد نموده است . موصوف خميني را از کمك هاي همه جانبه امريکا اطمينان کامل داد و طالب پرسش گرديد که در اين فرصت با ما چه کمك کرده مي توانيد ؟

ايت الله خميني اين مطلب را واضح نمود که دشمني مردم ايران با رضا شاه و علت اصلي قيام انقلاب بر ضد وي همانا نفرت از امريکا است ؛ بنأ در چنين حالات تصور روابط آشکار با امريکا امکان پذير نيست. البته اگر امريکا بخواهد در عقب پرده طرفين دشنام نثار يکديگر نموده و با هم مخالفت نمايد و با اينهم امريکا با استفاده از نفوذ بيشتر خود شاه را مجبور به ترك ايران نمايد و اين حرف واضح و اطميناني گردد که شاه به هيچ صورت در هيچ يك از ممالك پناه گرفته نمي تواند.

بعد از اين تفاهم و معاهده پنهاني حکومت امريکا بالاي رضا شاه فشار آورد تا به تشکيل يك حکومت نظامي مبادرت ورزيده و به طور موقت ايران را ترك نمايد زيرا با موجوديت وي اميدي براي خوب شدن اوضاع باقي نمي ماند و بعد از خوب شدن حالات دو باره به ايران باز گشته مي تواند.

به همين اساس در ۷ فبروري سال ۱۹۷۹ جنرال روبن بايسر يك تن از مامورين عاليرتبه قواي هوايي امريکا همراه با پيغام خاص کارتر رئيس جمهور آن کشور به تهران رسيد و شاه را به اين راضي نمو تا موقتاً ايران را ترك نمايد.

با خارج شدن رضا شاه از ايران، زمينه برگشت خميني و بر پا نمودن انقلاب مساعد گرديد. امريکا دولت انقلابي ايران را در ظرف ٢٤ ساعت به رسميت شناخت و رضا شاه، کارتر را مسؤل سقوط حکومت خود قلمداد نمود.

بعد از انقلاب، حمله انقلابيون به سفارتخانه امريکا و اسير گرفتن کارمندان آن سفارت براي حکومت امريکا غير قابل توقع نبود . تعجب اينست که به صد ها امريکائيان که در زمان انقلاب در بخش هاي مختلف حکومت رضا شاه خصوصاً در وزارت دفاع به حيث مشاور گماشته شده بودند و در همين وقت که .. هزاران ايراني از تيغ گذشتند به يك مريکايي هم ضرري وارد نگرديد. در حقيقت تمام اين صحنه سازي ها عمل نمودن بر معاهده، پنهاني خميني و امريکا بود تا اينکه بر چشمهاي اين ملت خاك بپاشند. در زمان انقلاب ميدانهاي هوايي ايران براي هر نوع رفت و آمد مسدود بود ولي در همين ميدانهاي هوايي خصوصاً ميدان هوايي تهران رفت و آمد طياره هاي امريکايي و خارج نمون امريکائيان بدون کدام معطلي بعد از انقلاب نيز جريان داشت . بعد از انقلاب تا امروز زعيمان هر دو کشور بخاطر اغفال ساختن اذهان ايرانيان و جهانيان بالاي يکديگر انتقاد مي نمايند، خميني امريکا را شيطان بزرگ خطاب ميکند و امريکا هم ايران را به دهشتگرد بين المللي متهم مي سازد؛ ولي اينهمه مطابق برنامه طرح ريزي شده قبلي طرفين ميباشد.

در وطن ما (پاکستان) اهل دانش و تحصيل و حتي ژورنالستان نيز از اين تبليغات گرم آنقدر متاثر گرديده اند که حتي پر تيراژ ترين نشريه پاکستان به طرفداري از ايران تبصره ها و سر مقاله هاي طويل را به رشته تحرير مي آورند . شايد اينها به همه معلوم نباشد که اين همه صرف خاك پاشيدن به چشمهاي جهانيان است که بغير از مکالمه زباني ديگر اهميتي ندارد. با وجود آنکه روابط سياسي بين اين دو کشور بر قرار نمي باشد و مطبوعات ايراني ورهبران مذهبي آنها به عوض نگهداشتن اين حالت سخن مي گويند با وجود آن هم روابط ميان اين دو کشور به سطح بالا تأمين بوده با يکديگر همکاري دارند.

در اپريل سال ۱۹۹۱ يك طياره مملو از ادويه و ديگر مواد عاجل به تهران فرود آمد ، روز نامه هاي ايران با آمدن آن اظهار تعجب نموده و آن را شديداً مورد انتقاد قرار دادند؛ ولي رهبر مذهبي ايران اين واقعه را وضاحت نه بخشيد.

در سپتمبر ۱۹۹۱ يك روز نامه عربي زبان چاپ لندن خبر داد که مامورين عالي رتبه ايران و امريکا مصروف گفتگو هاي پنهاني و مخفيانه هستند و به خاطر پنهان گذاشتن اين ملاقاتها ، منزل يکتن از شخصيت هاي مشهور لبنان براي گفتگو تعيين شده است. در خبر گفته شده بود که اين مذاکرات به خاطر رهايي افراد اسير شده امريکايي از نزد مليشه هاي دست نشانده ايران (حزب الله) صورت ميگيرد که در مقابل اين ايران چندين صد مليون دالر بدست مي آورد.

فرنتير پست روزنامه انگليسي زبان چاپ پشاور نيز در يك راپور شماره مؤرخ ۳/۱۱/۱۹۹۱ خود مي نويسد که دستگاه استخباراتي امريکا(CIA) در طول سالهاي ١٩٨٤-١٩٨٦ براي ايران به ارزش چندين مليون دالر اسلحه بطور قاچاق ذريعه پاکستان ارسال نموده است . به اساس راپور يك گروه متخصصين نظامي اسرائيلي که مجاهدين افغان را تعليم و تربيه نظامي ميدادند و به منظور تهيه سلاح براي آنها در پاکستان مسکون بودند جريان ارسال سلاح به ايران را نيز نظارت مي نمودند .

نيويارك تايمز در شماره مؤرخ ۹/۱۲/۱۹۹۱ خويش خبر داد که امريکا براي اسرائيل اجازه فروش چند بليون دالر سلاح را بالاي ايران داده است . در زمانيکه جنگ ميان ايران و عراق جريان داشت روزنامه مذکور به نقل قول از اداره هاي مخفي امريکا و اسرائيل مي نويسد : که اين عمليه (فروش اسلحه) به اساس يك معاهده، که بين هيگ وزير خارجه امريکا و ميناتيم بيگن صدر اعظم اسرائيل صورت گرفته بود ، انجام پذيرفته است که به رويت اين معاهده به ارزش چند صد مليون دالر اسلحه امريکايي ذريعه اسرائيل به ايران داده شده است .

هفته نامه Far Eastern Economic Review منتشره هانگ کانگ در شماره مؤرخ ۱۱/۱۲/۱۹۹۱ خود نوشته است که در دهه هشتاد به ارزش ٦٠٠ مليون دالر اسحله براي مجاهدين افغان به ايران رسيده است. اخبار اضافه مي نمايد که اين اسلحه که مشتمل بر توپ ها و راکتهاي ضد تانك بود اضافه تر از آن اسلحه، بود که در سال ۱۹۸٦ قبل از رسوايي «ايران گيت» براي ايران داده شده بود.

آژانس خبري ارنا ايران به تاريخ ۲۲/۱/۱۹۹۲ گفت : رفسنجاني رئيس جمهور ايران مردم عامه و نظاميان آن کشور را از سر دادن شعار هاي ضد امريکايي طي فرماني منع نموده است که قبل از اين فرمان، شعار دادن عليه امريکا در اجتماعات جمعه و رسم و گذشت هاي نظامي يك حرف معمولي بود.

ادامه دارد

په افغانستان د کلنټن يرغل په ه ده د جنسي اړيکو دوسيه و نه تړي

عبدالمتين «عمران»

لکه چې د اسلامي امارت ځواکونو د شمال دښمني زياته ځمکه د لوي خداي«ج» په مرسته د شر او فساد له ناولتيا څخه پاکه کړه او د فتحي آواز يې په نړۍ کې خپور شو نو د ډېرو هيوادونو پام دي ته راوگرځېد تر څو اسلامي امارت په رسميت وپېژني امريکې د دي لپاره چې د نړيوالو پام د اسلامي امارت له بريو څخه بلې خواته واړوي نو په يې بنسټه پلمو يې د افغانستان په پاك حريم ځرگند تيري وکړ او د خوست په سيمه يې د کروز توغندي واورول. چې ددي پيښي په ترځ کې زموږ يو زيات شمير هيواد وال مړه او ټپيان شول که چيري حقيقت ته ځير شو نو په نړۍ کې ډېر لوي لوي تروريستان په بيلا بيلو هيوادونو کې او حتي په امريکې کې هستوگن دي چې ښايي زيان يې امريکې ته او نورو هيوادونو ته له اسامه څخه (چې تروريست هم نه دي) زيات وي . خو خبره د اسامه په سر نه ده.

امريکا نه غواړي تر څو په نړۍ کې کوم سوچه اسلامي نظام په کوم هيواد کې منځ ته راشي ځکه چې بيا به په اصطلاح د دوي گټو ته لوي خطر وي ! امريکا اوس په ښکاره توگه د تيرو لسو کلونو د تروريستي عملونو پړه د اسامه په غاړه اچوي، حال دا چې که چيري دوي په خپلو وينا گانو کې رښتيني وي نو کله چې اسامه د رباني د فاسدې اداري په وخت کې د ننگرهار له والي حاجي قدير سره ؤ ، نو ولي امريکا له هغو څخه نه غوښتل تر څو اسامه ورته وسپاري !!!

اوس ټول په دي پوهېدلي چې امريکا غواړي له خپل قدرت څخه ناوړه گټه واخلي. جنگ ځپلي او خوار اسلامي هيوادونه تر نظامي گواښ لاندي راولي. خوښايي هغوي په دي پوه شي چې افغانانو په همدي نژدي تاريخي براوونو کې د نړۍ دوه ستړو زبر ځواکونو روسيي او انگلستان ته ماتي ورکړي ده او امريکا هم که چيري غواړي خپلو تيرېو ته دوام ورکړي نو دريم نوم به يې په دي ليکه کې ولیکل شي.

د امريکي دا تيري د افغانستان په خپلواکي خاوري د نړيوالو اصولو څخه ښکاره سرغړونه ده، او له افغانانو او اسلام سره د امريکي د ځرگند مخالفت يوه روښانه بيلگه ده. د افغانانو تير تاريخ دا په ډاگه کوي چې دلته د ستړو اميراطورانو او زورواکو هيلي له خاورو سره خاوري شوي او نن هم افغانان د اوړتيا لري تر څو هر يهرني ښکيلاك گر ته غاښ ماتوونکي ځواب ورکړي. ښاغلي کلنټن بايد په دي وپوهېږي چې دده داله وحشت نه ډك عمل به نه يواځې دا چې له مونيکا سره دده د ناروا جنسي اړيکو درلودلو دوسيه ونه تړي بلکې په هغې کې به دده د گناهونو يو بل ستر باب هم پرانيزي .

دا يوه طبيعي پديده ده چې هر عمل له خپل ځان سره غبرگون لري او امريکا دي هم د خپل عمل غبرگون ته سترگې په لار وي !

د هيواد د ستر اتل مجاهد شهيد مولوي احسان الله «احسان» په ياد :

د حق د لاری اتل شهید

سميع الله «سميع»

هغه شهيد چې تل بې ستايو هغه ستاسو شهيد دي وطنه ستا د سر لوړي او د بقا شهيد دي چې يې قربان خپله ځواني کړه ستا له سه ځني ستا د خپلواك ژوندون په مينه په رښتيا شه... دي

د تير کال د پسرلي شپې او ورځې دي د پسرلي په رنگارنگ گلونو د وطن هره خوا کل گل ښکاريده او د هيواد د خپلواکي د شهيدانو په مزارونو د سرو گلونو ډيوې بلې شوي وې په هيواد کې د حق او باطل د جگړې تعاره گرمه وه د اسلام، مسلمانانو او هيواد دښمنانو د حملو شومو ارمانونو د پوره کولو له پاره زموږ د هيواد د شمال په خلکو د زيات زور او ظلم نه امله رڼا ورځ توره شپه کړي وه په شمال کي پاټك سالاري او ټوپك سالاري په زور کې وه زموږ د بې وزلو هيوادوالو پت او عزت هره شپه چور او تالا کيده او د شمال د خلکو په زړونو کې د پاټك سالارانو او ټوپك سالارانو په ضد د يو عمومي قيام ولولي راوپښېدلي. او د بلي خوا نه د جنبشي مليشو د مشرانو تر مينځ تاوتريخوالي خپل اوج ته رسيدلي و ، جنرال مالك وغوښتل چې د دي حالاتو نه گټه پورته کړي هماغه و چې د طالبانو اسلامي تحريك نه يې بلنه ورکړه چې شمال ته راشي او د شمال خلکو ته ددي وريښو مصيبتونو او کړاوونو نه نجات ورکړي ، همدا کار وشو ميلمانه طالبان په پوره اخلاص ، صداقت او مينې سره شمال خواو ته وخوځېدل او د طالبانو له رسيدلو سره سم د شمال د ائتلاف ځيني مشران لکه جنرال دوستم ، رباني او ... د افغانستان نه خپلې پښې سپکې کړي او بهر ته وتښتېدل د اسلامي امارت بيرغونه د مزار او د شمال په ځينو نورو ښارونو کې په رپيدو شول. د هيواد ټول پښتمن خلك د شمال د خلکو په دغه بيساري خوشحالي باندي خوښ شول او هر چا د شمال د خلکو په خوشالي کي خپل ځان شريك باله او ډلي ډلي د سولي او خوشالي د پيغامونو سره د شمال د خلکو په بلنه د مزار شريف په لور روان شول او په مزار شريف کي د خوښي او سولي زيري د سخي صاحب د مزار د سولي سپينو کوترو لور په لور د مسلمانانو غوږونو ته رساوه او داسلامي امارت سپين بيرغونه په رپيدا شول .

خو زموږ د دښمنانو دغه ستره خوښي په موږ نه پيرزو کيدله او نه يې غوښتل چې زموږ د هيواد ټول وگړي د ملي يووالي په درلودلو سره د واحد اسلامي شرعي قانون په رڼا کي خپل پتمن او سوکاله ژوند وکړي نو د خپلو مزدورانو سره يې لاس يو کړ او د يو کمونست جنرال ملك مهار يې بيا خپل خوا ته کش کړ او د مالك او وحدتي مليشو په مشري يې د زياتو پيسو او وسلو په ورکولو سره د الله د نيکر د محوه کولو له پاره د يوي لويي دسيسي په عملي کولو د هيواد د تش لاسو مؤمنو خلکو او زلميو طالبانو په وژنه پيل وکړ چې هلته د ميلمنو په توگه بلل شوي وو او د سولي او وروري د پيغام سره مزار شريف ته تللي و زموږ دښمنانو په ډېره بې رحمي سره د خپلو باداراتو په لمسون په مزار شريف کي د بې گناه زلميو طالبانو په يو مخيزه وژنه په ټا ځاپي ډول شروع وکړه او ډېر بې د مزار شريف د ښار په کوڅو او سرکونو کي د زلميو او بې گناه طالبانو د وينو رودونه وبهول چې په دغه لړ کي د هيواد ستر اتل شهيد مولوي احسان الله احسان هم د خليلي او گلم جم د مليشو د ظلم او ناروا ننيه وگرځيد او د شهادت لوړ مقام يې د الله په درکي په نصيب شو. په مزار شريف کي ددغه ناروا قتلونو ننداره زموږ د هيواد د آسمان ستورو او لمر کوله او زموږ د هيواد ښځي او نارينه د جنرال ملك او خليلي په لاس د خپلو زلميو طالبانو په يو مخيزه وژنه چې ۱۳۷٦ هـ ش کال د جوزا د مياشتي په ٦ مه د مزار ښار کي تر سره شول ډېر سخت و دردېدل او کله يې چې دا خبر واوريده چې د هيواد ستر او اتل مجاهد مولوي احسان الله احسان هم د گلم جم او خليلي د مليشو په لاس شهيد شوي دي نو لا زيات خپه شول . په شمال کي زموږ د اسلام او مسلمانانو دښمنانو د خپلو بهرنيو باداراتو په مرسته وکولاي شول چې يو ځل بيا په مزار شريف کي د خپل ظلم، فساد ناروا او بغاوت بيرغ د اسلامي امارت په وړاندي پورته کړي .

شهيد مولوي احسان الله احسان د افغانستان د طالبانو داسلامي تحريك يو ستر سپارلي مشر و هغه د تحريك د پيل نه په هيواد کي د ظلم او فساد د عناصرو په وړاندي ډېر په نره جنگېدلي و او د هغه د ميړاني او زړورتيا او پوهي خاطري د هغه د ملگرو او زمونږ د هيواد د خلکو په زړونو کي دي.

هو! شهيد مولوي احسان الله احسان خپل سر د الله د رضا د حاصلولو په لاره کي ندرانه کړ. خو د هغه د قرباني او شهادت په برکت زموږ د شمال په زرگونو بې دفاع هيوادوال د گلم جم او خليلي د مليشو له ظلم او ناروا څخه خلاص شول. لوي خداي «ج» عادل دي او هيڅ بې گناه قتل بې بدلي نه پريږدي او د ظلم او غرور ماڼۍ ډېر زر رنگوي، کله چې د لوي خداي«ج» اراده وشوه او د روان کال د اسد په مياشت کي د اسلامي اردو اتلو مجاهدينو د شمال ولايتونه او د مزار شريف ښايسته ښار د دريم ځل له پاره فتحه کړ نو شهيدو طالبانو د ښار له هري کوڅي ، کور او سرك څخه د اسلامي اردو مجاهدينو ته ددغه لويي او عظيمي فتحي د مبارکي ناري ووهلي او په هغوي شاباسي وويلي چې په دغه نارو کي د ستر او اتل مجاهد شهيد مولوي احسان الله احسان ناره هم وه« اللهم اغفرهم و ارحمهم » په مزار شريف کي د اسلامي امارت مسوولينو د هغه شهيد جنازه په ډېر وياړ د روان کال د جمادي الاول په ۷ مه د شنبي په ورځ د کندهار ښار ته انتقال کړه او په ډېر درناوي سره يې په کندهار کي د شهيدو طالبانو په ادیره کي خاوروته وسپارله . انا لله و ...

افغان ولس به هيڅکله د هيواد د ستر مجاهد شهيد احسان الله احسان سربښندنه ، زړورتيا، د اسلام او وطن سره مينه هيره نه کړي او تل به يې په ډېر درناوي يادونه کوي.

عالیقدر امیر المؤمنین در مصاحبه با رادیو ...

ملل متحد با ما رابطه مستقیم ندارد، اما این سازمان میتواند در این مورد قضاوت کند. قضاوتي که براي تمام مردم جهان قابل قبول باشد. ما در این مورد استدلال خود را داریم اینکه سازمان ملل متحد آنرا مي پذيرد يا نه مربوط به آنها است حدس ما در این زمینه اینست که در مزار شریف جنگ بسیار شدید جریان داشت من و سایر رهبران نظامي ما متوجه حضور ديپلوماتهاي ايراني در شهر مزار شریف نبوديم و دقیقاً نمي دانستیم که در این مورد چه اقدام کنیم. ما در این زمینه کدام طرح خاصي نداشتیم ما آنها را نه در آنجا باز داشت کردیم و نه به کندهار آورده ایم و نه از آنهـــا اطلاعي داریم. کاملاً روشن است که آنها نزد ما نیستند، حدس ما اینست که نزد مخالفین امارت اسلامي افغانستان باشند. در غیر آن ممکن است کشته شده باشند اما ایراني ها این مسئله را اساس و بهانه يي براي تبلیغات علیه ما قرار داده و میکوشند مداخلات وسیع شان را در افغانستان بپوشانند. ما سلاح هاي زیاد ایراني را به روز نامه نگاران نشان دادیم که ذريعه این سلاح ها هزاران تن هموطنان ما کشته شده اند.

ایران په افغانستان حمله ...

مانورو (فوځي مشقونو) په بهانه په افغانستان د برید لپاره تیاري نیسي او دا برید کله هم په نا څاپي توګه صورت نیولي شي. دي اوازو ته د ایران د جمهور رئیس محمد خاتمي په شمول د ګڼو ایراني چارواکـــو دا اخطارونه چي ایران به د افغانستان په مزار شریف کښي د خپلو ورکو لسو سفارتکارو او یو ژورنالست د خلاصـون د پاره هر ممکن اقدام کوي تقویت وربخښي. سوال اوس دا دي چي ایا ایران به رښتیـــا هم دي عمـل ته غاړه کيږدي! او بله دا چي ایران به د داسي بي حوازه اخطارونو او حملو نه څه لاس ته راوړي شي او که نه ؟ د لومړي سوال ځواب خو دا کیدي شي چي ایران خپل یو بل ګاونډي هیواد عراق سره د جګړي مزه څکلي ده او د جګړو کړاوونه بي لیدلي نو کله به هم افغانستان سره جګړي لپاره زړه ښه نه کړي. فرضاً که ایران دا غلطي کوي چي د افغانستان په حریم تیري وکړي نو داسي مقاومت سره به مخ شي چي د عراق مـقـــاومت به يي نقل هم نه وي ځکه د افغانـــــستان خاوري ته که هر چا په کړو سترګه کتلي دي افغانانو يي سترګي بوټي ويستلي دي چي رواني پيـړي کـښـي د افـغـانانو په لاس د انګريزانو او بيـا د شوروي اتحاد ماتي يي ښه مثالونه دي. دغه راز څو پيړي وړاندي د افغانانو لخوا د میرویس هوتك په مشري کښي د ایران د ګرګین شکست به لا د ایران په ذهن کښي وي ایران ته د حالاتو حساسیت درك کول په کار دي ځکه د هوشمندي پرته که هر قدم پورته کولي شي هغه ټوله سیمه ...

... راتلونکو څو کالونو ته رنګارنګ کړاونو سره مخ کولي شي. د ایران د ممکنه برید تر ځنګ دا خبرونه هم خواره دي چي دي حملي ته د پخواني افغان جمهور رئیس استاذ برهان الدین رباني، پخواني صدراعظم انجنیر حکمتیار او قوماندان احمد شاه مسعود ملاتړ هم حاصل دي. که چیري په افغانستان د امریکا د ورروستي برید په حقله د انجنیر حکمتیار دریځ ته وکتلي شي نو دا جوتيږي چي نومــــوړي به کله هم د ایران د برید ملاتړونه کړي فرضاً که دا افغاني مشران ددي تجاوز مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ هم وکړي نو د دوي او د روسانو د ګوډاګي ببرك کارمل او نورو کمونستي ګوډاګیانو فرق به پاتي نه شي ! او هم به د افغان مسلمان ملت قضاوت هم د دوي په حقله داسي وي ځکه چي د افغانستان پلورونکو کمونستانو په مقابل کښي وو. ایران چي په نړي کښي د کفري هیوادونو په خاصه توګه د اسرائیلو دله منځه وړلو دعوه دار دي. په کار ده چي خپلو مسلمانو وروڼو او اسلامي هیوادونو ته د سترګو برګولو په ځاي د اسلام د دښمنانو خلاف خپل قوت استعمال کړي او عمل کښي دا وښايي چي دوي د امریکا، اسرائیلو او نورو کفري قوتونو مخالف دي. دا چي د ایران او د افغانستان د اسلامي امارت تر منځ د ایراني سفارتکارو ورکیدلو له امله اړیکي لا پسي خرابي شوي دي ددي مسئلي د حل لپاره باید د افغانستان او ایران دواړو حکومتونه په مستقیم ډول يو بل سره رابطه وکړي او د سفارتکارو د مسئلي په شمول ټولي اختلافي مسئلي هوشمندي او فراست سره د مذاکراتو له لاري حل کړي. که د دي پرته بله لاره يعني د زور لاره نیولي تیريږي تاوان به يي متجاوز ته د هر چا نه زيات رسيږي او د انګريزانو او روسانو په شان پښيماني او شرمندګي سره به مخ کيږي.

از جنگ افغانستان و ایران ...

ایران طرفداري مي نمایند آنها نیز مورد نفرین ملت قرار میگیرند. و ملت در آینده با آنها مقاطعه مي نماید.

استاد رفیع در جواب به یك سؤال چنین گفت : اگر ایران بالاي افغانستان حمله نماید، افغانستان تنها نیست. قوت هاي مخالف ایران مانند امریکا با تمام امکانات خود آماده کمك با افغانهاست . امریکا همین را مي خواهد که افغانان و ایرانیان را داخل جنگ نمایند و مانند روس دشمن دیگر خود را در منطقه از بین ببرد. موصوف اضافه نمود : از جنگ افغانستان و ایران تنها امریکا نفع میبرد و این دو کشور اسلامي تباه مي گردد .

استاد رفیع در مورد علت حمله ایران بالاي افغانستان چنین گفت : ایران بسیار تمایلات عمیق فاشیستي دارد . از سابق خواب تسخیر هرات را مي بیند در حالیکه چندین بار توسط مردم هرات شکست خورده اند وي اضافه نمود : با حمله ایران افغانان اختلافات خود را کنار گذاشته و با هم یکجا مي گردند. وي گفت : ایران حالا نیز به این مفکوره است که افغانستان جزء ایران است و به همین لحاظ خواهان به قدرت رسیدن کساني در افغانستان میباشد که از لحاظ رژیمي و مذهبي به ایران نفع برساند.

استاد رفیع در پاسخ به یك سوال دیگر گفت : ایران از مفقودي ديپلوماتان و ژورنالست سخن مي گوید که آنها به عوض مسؤلیت هاي اصلي شان به کار هاي دیگر مشغول بودند از قونسلگري ایران اداره جاسوسي ساخته بودند و ژورنالست آن مخالف حکومت مرکزي تبلیغات مي نمود: بنأ چنین اشخاص چطور با آمدن طالبان در مزار باقي مانده مي توانند . وي اضافه داشت : این اشخاص یا در شور ماشور لا درك گردیده اند و یا اینکه نزد کساني میباشند که میخواهند روابط افغانستان و ایران را بر هم زنند و یا هم با گروه هاي طرفدار ایران میباشند.

محترم حبیب الله رفیع از ایران خواست تا با تحریك که بخاطر تحکیم وحدت ملي، جمع آوري سلاح، تأمین امنیت : دست به اقدام شده اند، به حیث یك همسایه مسلمان همکاري نماید. وي اضافـــه داشت یك افغانستان با امن به نفع هر کشور همسایه میباشد . ایران با در نظر داشت نفع خود مفاد افغانستان را نیز در نظر بگیرد و مفکوره جنگ را از ذهن خود دور کند.

د ننګرهار په ولایت کي ...

نه ورکړېده .

دغه مدرسه چي د زده کړي انه ټولګي او نور ملحقات لري څه د پاسه دري سوه طالب العلمان پکي ځائیږي چي د هغه د زده کړي چاري به د دولــو تنو استادانو لخوا پر مخ لاړي شي.

دغه راز په دغي مدرسه کي يو جومات هم جوړيږي.

طالبان به هیچوجه به ...

را ندارند و مردم افغانستان هم هیچوقت من باور ندارم کـه آنهـا به تـاجکستـــان و یا ازبکستان هجرت کنند ما باید که به کار هاي آنها مداخله نکنیم .

د پانګي اچوني پراختیا او ...

سره برابر او مهم کار دي.

د غونډي د کار په بهیر کي د هري پروژي د ارزښت په باب هر ارخیزي خبري وشوي او د تائید وړ وګرځیدي .

دغه راز په غونډه کي پریکړه وشوه چي ټولي نولس پروژي دي په کار پیل وکړي او د کانو او صنایعو وزارت او د کابل ښاروالي دي يو د بل په تفاهم او همکاري سره د افغانستان د اسلامي امارت د مشکو کي ددغو پروژو د جوړولو لپاره سمي تثبیت او د پروژو د جوړولو په خاطر دي ددغو منشینو په واك کي ورکړي.

همدا شان د کانو او صنایعو، اوبو او بریښنا اود پلان وزارت ته دنده ورکړل شوه چي ددغو پروژو د بریښنا د شکو د عملي پراختیا زمینې تدقیق کړي.

په دغو پروژو کي چي په تقریباً دري اویا زرو پنځه سوه اود نوي اعشاریه اتیا ملیونو افغانیو په لګښت پانګي جوړیږي زموږ د څه د پاسه دوه زرو هیوادوالو لپاره د کـار زمینه او شرایط برابریږي او په دغو پروژو کي به په کار بوخت شي.

په غونډه کي د پلان وزارت سرپرست محترم قاري دین محمد حنیف د چارو د اداري د عمومي ریاست مرستیال محترم مولوي محمد سلیمان د سوداګري وزارت معین محترم مولوي فضل محمد فیضان د مالیي وزارت معین محترم مولوي عارف الله عارف د کانو او صنایعو وزارت معین محترم مولوي عبدالسلام ضعیف د بانګي اچوني رئیس محترم مولوي شجاع الدین خدام ګډون کړي و.

اهالي متدین شهرك بندري...

همچنان اشتراك کننده گان این اجتماع حمایت و پشتیباني همه جانبه شانرا از امارت اسلامي افغانستان ابراز داشته ضمن ابراز خوشي و رضایت عملکرد هاي مسوولین و مجاهدین اردوي اسلامي د شهر حیرتان و سایر نقاط ولایت بلخ اطمینان دادند که در کنار امارت اسلامي آماده هر گونه ایثار و قرباني در راه تحقق اهداف اسلامي میباشند.

در اجتماع متذکره تعداد زیادي از مسوولین ملکي و نظامي شهر حیرتان اشتراك نموده بودند.

طبق یك خبر دیگر مردم متدین و صلحدوست قراء و قصبات ولسوالي حضرت سلطان ولایت سمنگان طي گردهمایي وسیعي حمایت و پشتیباني شانرا از امارت اسلامي افغانستان ابراز داشتند .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در این گردهمایي بعد از آنکه آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردید ، محترم قاري فیض محمد قوماندان امنیه و محترم سید عزیز الله آغا مسوول امنیت ولایت سمنگان بالترتیب پیرامون اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي در پرتو شریعت اسلامي صحبت نموده مردم را به گزینش راه حق و عدالت اجتماعي و پیروي کامل از اسلام دعوت نمودند.

بالمقابل محترم مولوي ذکر الله مدرس مدرسه چوج من و تني چند از علمـا و موسفیدان ضمن آنکه حمایت و پشتیباني شانرا از امارت اسلامي ابراز داشتند در راه تحقق اهداف امارت اسلامي وعده هر گونه همکاري را سپردند. در اخیر گردهمایي مردم آنولسوالي یکمقدار سلاح ثقیل و خفیف را که از مربوطات شان جمع آوري نموده بودند به مسوولین ولسوالي متذکره تسلیم نمودند.

اعلامیه وزارت امور خارجه ...

دیگر به خصوص همسایه گان نخواهد ساخت اردوي امارت اسلامي در عملیات خویش هیچگاه از حریم مرز هاي افغانستان پا فراتر ننهاده و تهدیدي را متوجه کدام کشور همسایه نساخته است در حالیکه بعضي از کشور هاي همسایه از داخل خاك خویش زمینه فعالیت نظامي به مخالفین را علیه امارت اسلامي مساعد ساخته و طیارات کشور هاي مداخله گر هر روز با نقض حریم هوایي کشور ما اسلحه و جنگ افزار به مناطق تحت کنترول مخالفین به منظور دوام جنگ در افغانستان انتقال میدارند ما همین اصل را رعایت کردیم حتي در شرایطي که ملیشه هاي فراري پس از شکست از مرز گذشته و به کشور هاي همسایه پناهنده میشدند ما آنها را در داخل خاك همسایه گان تعقیب نکردیم ما حرمت حریم مرز ها یا همسایگان را حتي در شرایطي که خطر جدي از آن سخت متوجه ما بود رعایت کردیم .

با وجود اینکه سردمداران رژیم ایران با مداخلات آشکار و بیشرمانه خویش مسؤول بسیاري از ویراني ها تباهي ها و خونریزي ها پس از روسها در افغانستان اند و همین ها بودند که شمال افغانستان را به انبار اسلحه ساخت ایران براي مخالفین مبدل ساختند ولي همه پلانهاي ایران با نصرت خداوندي و همت مردم مجاهد ما که هیچگاه به تسلط اجنبي گردن ننهاده اند به شکست مواجه گردید و اکنون که ایران همه راه ها بسوي افغانستان را در برابر خود مسدود مي بیند به بهانه مفقود شدن عده يي از جاسوسانش در مزار شریف از طریق اجراي تمرینات نظامي در مرز با افغانستان قصد تهدید مردم افغانستان را دارد ما قبلاً نیز اعلام داشته ایم که هیچ دیپلومات ایراني نزد ما اسیر نیست و اصولاً امارت اسلامي هیچ مسؤولیتي در قبال کساني ندارد که ایران آنها را به اجازه ائتلاف شمال به افغانستان فرستاده است

کارنامه گذشته رژیم ایران شاهد گویاي این حقیقت است که زمامداران ایران با وجود داد و فریاد مبارزه با امریکا و اسرائیل هیچگاه صدق اینادعا را در عمل ثابت ننموده، بلکه بیشتر به جنگ و کشمکش با همسایگان تمایل داشته اند جنگ طولاني این کشور با عراق که سر انجام شکستي به تلخي جام زهر را در کام رهبران ایران ریخت گواه این حقیقت است . ما امید واریم که مانور هاي نظامي ایران در مرز هاي آنکشور محصور بماند و تهدیدي را متوجه تمامیت ارضي کشور ما نسازد در غیر آن شعله هاي این جنگ تا اصفهان را فرا خواهد گرفت و در آنصورت مسؤولیت عواقب وخیم آن بدوش سردمداران رژیم ایران خواهد بود.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ...

دوي د سرحداتو احترام کړي دي او تر اوسه مو د ایران په چارو کي مداخله نه ده کړي زموږ امید دا دي چي دوي هم د افغانستان د سرحداتو احترام وکړي او د افغانستان د تیر تاریخ نه به پوره معلومات لري او که بیا هم دوي داسي غلط حرکت کوي دا به د دوي په ګټه نه وي او به هغو باندي که څه تحمیلیږي نو د هغه مسؤلیت هم دوي ته راجع دي.

محترم امیر خان متقي ووېل چي نه ایران ته د افغانستان لخوا نه کوم خطر پیښ دي او نه هم د مرکزي اسیا جمهوریتونو ته، ده ووېل چي طالبان د مرکزي اسیا جمهوریتونو ته ډاډ ورکوي چي د افغانستان له لوري به په سرحدونو باندي تیر نشي . ښاغلي متقي زیاته کړه اصلاً روسان غواړي چي داسي تبلیغات وکړي چي د منځني اسیا هیوادونه ووېري او خپل اثر او نفوذ هلته وساتي حقیقت دا دي چي موږ د پاکستان سره ډېر اوږد سرحد لرو ، د ایران سره سرحد لرو، له ترکمنستان سره مو د ډېر وخت نه سرحد دي او د تیر يو تیم کال نه را پدېخوا په کندز کي د تاجکستان سره سرحد لرو تر اوسه زموږ له طرف نه دي هیوادونه هیڅ نوع مشکل او تاوان ندي رسیدلي. هیڅ نوع مشکلات ندي ورته پیدا شوي، نو موږ بیا هم اطمینان ورکوو چي موږ خپلو له اصولو نه خلاف ورزي نه کو وموږ له هر چا سره د ښه ګاونډیتوب ژوند غواړو دوي باید پدي ساحه کي مطمئن واوسیږي او پاته شوه دا خبره چي ایران اوس تبلیغات کوي او وایي چي زموږ ديپلوماتان طالبانو ورك کړيدي . بايي وژلي دي یا يي بندیان کړيدي نو باید عرض وکړو چي مخکي چي موږ هرات فتح کړ هلته هم د ایران ماموریتو کار کاوه مخکي چي موږ کابل فتح کړ هلته هم د ایران سفارت فعال و په جلال اباد کي هم د ایران قنسلګري فعاله وه او همدارنګه په مزار شریف کي. د دي نه علاوه موږ د ایران نور ډېر زيات نظامي کسان ونیول چي هغو مهمات افغانستان ته را نقلول نو موږ که د اسیرانو سره ناوړه سلوك کولي پدي نورو ځایونو کي ولي موږ ددوي سره داسي نه کول حقیقت دا دي چي دوي د دي موضوع نه یوه تبلیغاتي موضوع جوړوي او غواړي چي د ولس توجه بلي خواته واړوي. موږ ټولو ګاونډیو هیوادو ته اطمینان ور کوو چي موږ به د دوي سره د ښه ګاونډیتوب اصول په نظر کي نیسو او دوي ته هم دا حق نه ورکوو چي زموږ په کورنیو چارو کي نوره مداخله وکړي.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د شریعت تبصره

د ایران پارونکي حرکات او د ملګرو ملتونو چوپتیا ؟!!

په داسي شرایطو کي چي د افغانستان د اسلامي امارت د اردو د مجاهدینو لخوا د هیواد نږدي ټولي سیمي فتح او د لوټمارو ملیشو له منګولو څخه آزادي شوي او ډېر نژدي ده چي وروسته له شلو کلو جنګ جګړي څخه زموږ هیواد وال د سولي او اسلامي نظام له خوندونو څخه برخمن شي، ایراني واکدارانو چي په افغانستان کي يي برېڅي د تل لپاره د خپلو جرمونو او خیانتونو له کبله له نظامي او سیاسي ډګرونو څخه شړل شوي او د افغانستان د مجاهد ملت د کرکي وړګرځیدلي، پټي راپورته کړي او د افغانستان پولو ته نږدي د تربت جام په سیمه کي يي خپل اویا زره ځمکني او هوایي پوځونه راغونډ او د پوځي تمرینونو تر نامه لاندي يي پارونکي حرکات پیل او په سیمه کي د ډاډمن امنیت فضا خړه پړه کړېده . د افغانستان پولي ته نږدي د پوځي تمرینونو په نامه د دومره غټ نظامي ځواك را ټولولو سره ایراني حاکمان غواړي چي له يوي خوا د افغانستان اسلامي امارت تر ګواښ لاندي راولي او په نتیجه کي د وحدتي ګوډاګي ملیشو د وروستي ماڼګي د ورانیدلو مخه ونیسي او له بلي خوا زموږ په هیواد کي د اوږدي مودي لاسوهني او مصارفو څخه وروسته کومي ماتي چي د هغوي په نصیب شوي هغه د خپل ولس له سترګو څخه پټي وساتي ددي تر څنګ يي د بوولس تنو په اصطلاح ديپلوماتانو د برخلیك ادعاوي هم اوچتي کړي او د پوځي طاقت په ښودلو سره تمه لري تر څو د افغانستان اسلامي امارت دي ته وهڅوي چي ایراني مقاماتو سره د خبرو اترو لار پرانیزي او په راتلونکي کي ایران ته د افغانستان په قضایاو کي د اهمیت ځاي پیدا کړي خو داسي ګونګوسي هم شته چي ایرانیان د خپلو شیعه ملیشو د دفاع او ساتني په خاطر پر افغانستان د پوځي برغل خیال هم لري. مسئله چي هر څه وي هغه په ایرانیانو پوري اړه لري ، د افغانستان اسلامي امارت نه د چا له پوځي ځان ښودني څخه ویریږي او نه دومره بیوسي ده چي څوك دي پري برغل وکړي او اسلامي امارت دي خپله دفاع ونشي کړي خو خبره دا ده چي په داسي حساسو او برخلیك ټاکونکو شیبو کي ایران د یوه ګاونډي او مسلمان هیواد په حیث او د ملګرو ملتونو د منشور د امضا کونکي په توګه ولي دا جرأت کوي چي زموږ د پولو تر څنګ داسي پارونکي حرکات تر سره کړي او بیا ولي ملګري ملتونه چي ځان په نړي کي د سولي، سوکالي، منځګړتیا او نا پیيلتیا ادعا لري په دومره کړکیچنو حالاتو کي ځان نا ګاره اچوي او چوپتیا غوره کوي ؟

د ایران حاکمانو په پرتله له متّګرو ملتونو څخه موږ د ډېري ګیلي او د دغي اداري په هکله د ډېري اندیښني حقداره یو دا ځکه چي په داسي ناوخو حالاتو کي چي د یوه خپلواك هیواد د ملي حاکمیت په خلاف ښکاره ګواښونه او پوځي ښودني تر سره کیږي، ملګري ملتونه ځان چوپ نیسي او حتي څښ هم نه کړوي نو بیا به په کوم وخت کي ملګري ملتونه د نړیوالو د ښیګڼي او له جګړو او نا امنیو څخه د ژغورولو په لاره قدم پورته کوي ؟!! ملګري ملتونو خو په دي وروستیو ورځو کي زموږ د اسلامي امارت په هکله ډېر نور منفي موقفونه هم اختیار کړي، د امریکي توغندي يي په رڼو سترګو ولیدل چي زموږ پر مقدس حریم راوویستل شول او په لسګونو بي ګناه خلك يي شهیدان کړل خو ملګرو ملتونو هیڅ هم ونه ویل د ائتلافي ملیشو د ډلګیو پر پناه کیـدل يي ومنل او ننداره يي وکړه او په داسي حال کي چي اسلامي امارت نږدي ټول هیواد تر خپلي ولکي لاندي راوستي ، خو بیا هم حاضر نشو چي په ملګرو ملتونو کي د افغانستان چوکي د اسلامي امارت استازي ته وسپاري او اوس چي ایراني پوځونه زموږ د پولو خواکي راټولیږي بیا هم ملګرو ملتونو په غوږوکي مالوچ ایښي او هیڅ نه وایي، چي دا ټولي خبري ددي حقیقت ښودنه کوي چي زموږ د ولس پر ضد د سیمه ایزو او بین المللي دسیسو تر شا او یا تر څنګ د ملګرو ملتونو پټ لاس شته ، او که نه وي نو بیا ولي هغوي خپل قانوني لازم موقف نه څرګندوي؟ ددي لپاره چي د ملګرو ملتونو چوپتیا زموږ د هیواد په ناخوالو کي د هغه سازمان لاس او مصلحت څرګند نکړي نو لازمه ده چي ددي اداري مسؤولین ژر تر ژره خپل قانوني مسولیتونه وپیژني او د ملګرو ملتونو د منشور او اصولو په رڼا کي زموږ د هیوادملي حاکمیت او سپیڅلي حریم د تقدس د خوندي پاتي کیدو په برخه کي خپل مثبت او مسؤلانه رول اداء او روانه شك زیږونکي چوپتیا ماته کړي !!

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press